د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
Office of the Deputy PM for Economic Affairs
د مطبوعاتو ریاست



- د تدارکاتو کمیســـیون د څه باندې څوارلس میلیارده افغانیو په ارزښت ۵۸ پروژې منظورې کړې
- کار ســـاخت فابریکه تولیدی سمنت یتیم‌تاق افتتاح شد
- 24-HOUR OPERATIONS AT HAIRATAN PORT: A MAJOR STEP TOWARD STRENGTHENING TRADE AND REGIONAL CONNECTIVITY

# ابادي

دري میاشتنی

ABAADI


ګـــــڼه ۱
ثـــور، ۱۴۰۵ ل.ل
پرلمپسې ۲۸مه ګڼه


"

دا غوره ګڼم چې د اســـلامي امارت د ارزښـــتونو او اصولو په چوکاټ کې هېوادونـــه د ســـیاسي او اقتصادي تعامل هڅه وکـــړي، هغه انرژي او امکانات چې د یو او بل په تخریب ضایع کېږي، ښـــه ده چې د یو او بل په ملاتړ او د مشترکو ټکو په پیاوړي کولو مصرف سي.

الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند

@FDPM_AFG
dpmea.gov.af
@FDPM_AFG

د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت
Office of the Deputy PM for Economic Affairs
د مطبوعاتو رياست

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين، والصلاة والسلام
على سيدنا محمد وآله وصحبه أجمعين

# ابادي

دري مياشتنی

ثور - ۱۴۰۵ ل. ل
پرله‌پسې ۲۸مه گڼه

گڼه ۱

**د امتیاز خاوند:** د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

**کتنپلاوی:** مولوي عبدالله عزام، مولوي ذبیح الله ناصر، امان الله حنیفي
فضل ولي شیراني او نجیب الله مایار

**مسئول مدیر:** مولوي خالق داد تقي

**ډیزاینر:** عطاءالرحمن سعید

**فوټوژورنالیست:** حجت الله قاضي زاده

مرمرینه ماڼۍ، ملک اصغر څلورلارې، کابل
0202107500
media@dpmea.gov.af
dpmea.gov.af

- **د مجلې له مقالو او انځورونو څخه ګټه اخیستنه د سرچینې په ذکر کولو سره جواز لري.**
- **استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مآخذ مجاز است.**

# لړلیک


سـرلیـکـنـه ۱

غـــونــــډې ۲ - ۱۱

لیـدنـې کتـنــې ۱۲ - ۱۵

اقتصادي پروژې او انفوګرافیکونه ۱۶ - ۲۹

د اقتصادي موضوعاتو اړوند مقالې ۳۰ - ۳۷

English Section 1 - 3



# سرلیکنه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۵ لمریز کال د ثور میاشتې په اوومه نېټه په جوزجان ولایت کې د یتیم تاق سیمنټو تولیدي فابریکې د جوړېدو چارو پرانیسته وکړه. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د هېواد د اقتصادي ودې او په تدریجي توګه د تولیدي اقتصاد پر لور د چټکو ګامونو اخیستو لپاره د کورني صنعت پیاوړي کېدل او له کورنیو تولیداتو ملاتړ مهم وبلل او د دې جدي اړتیا پر حل بې ټینګار وکړ.

صنعت د هېوادونو په اقتصادي وده کې ستره ونډه لري. د هر هېواد د پرمختګ کیلي، صنعت دی او څومره چې د صنعت برخه پیاوړې او پرمختللې وي، هغومره اقتصادي وده هم چټکه وي. افغانستان د بشري ځواک، طبیعي زېرمو او سرچینو، کانونو او ځنګلونو له اړخه یو غني هېواد دی او له دې هر څه نه د صنعت په برخه کې پوره ګټه پورته کېدای شي، خو له دې زېرمو لکه څنګه چې په کار ده، استفاده نه ده شوې. د اسلامي امارت په راتګ سره، پورتنیو ټولو برخو ته پاملرنه شوې او اوسمهال د دې ټولو له عوایدو څخه د هېواد د پرمختګ په لاره کې ګټه پورته کېږي. د هېواد په کچه د طبیعي زېرمو مدیریت او له ټولو معیارونو سره سم یې په تخنیکي او مسلکي ډول استخراج کېږي.

د هېواد په کچه د کوچنیو، منځنیو او ستر مقیاس ډېر شمېر کانونه د اسلامي امارت له لوري د وضع شویو قوانینو په رڼا کې په قرارداد ورکول کېږي او عواید یې په منظم او شفاف ډول د حکومت خزانې ته جمع کېږي. دغه راز د همدې کانونو د عوایدو پرمټ بیا د هېواد زېربناوې چې د یوه هېواد د پرمختګ او خلکو ته د خدمتونو وړاندې کولو په برخه کې اړینې دي، رغول کېږي. په دې تېرو شاوخوا پنځو کلونو کې د هېواد په کچه د سترو زېربنایي پروژو د چارو پیل او د ځینو یې پای ته رسېدل، د دې ادعا ښه ثبوت دی. دا مهال افغانستان د اوبو مدیریت، د لویو لارو جوړولو، د برېښنا د تولید پروژو د پیل او دې ته ورته نورو سکټورونو کې ترسره شوي کارونه، هغه څه دي چې کولای شي افغانستان له اقتصادي پلوه په پښو ودروي.

دا چې صنعت د هېواد د اقتصادي پرمختګ لامل ګرځي، نو له همدې امله اسلامي امارت دې برخې ته خپله توجه اړولې او ورځ تر بلې د صنعتي فابریکو په شمېر کې زیاتوالی راځي. د اوسپنې ویلې کولو، درملو جوړولو، د بېلا بېلو توکو تولیدولو فابریکو د جوړېدو ترڅنګ اوسمهال د هېواد په کچه د سیمنټو صنعت ته هم پوره پاملرنه شوې ده. له دې ډول صنعتي فابریکو څخه یې ځینې اوس عملاً سیمنټ تولیدوي لکه د غوري او جبل السراج د سیمنټو فابریکې او د هېواد په یو شمېر ولایتونو کې د سیمنټو د تولیدي فابریکو د جوړېدو چارې روانې دي.

له دې جملې څخه یوه هم د جوزجان ولایت د یتیم تاق د سیمنټو تولیدي فابریکه ده چې د جوړېدو چارې یې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري پرانیستل شوې. پر دې فابریکه ۷۷ ترکي شرکت ۱۶۰ میلیون ډالر پانګونه کوي، چې په ورځني ډول به ۳۰۰۰ ټنه سیمنټ تولید کړي. همدا چې یاده فابریکه د سیمنټو تولید پیل کړي، نو له دې سره به زموږ د سیمنټو په برخه کې شته اړتیاوې تر ډېره بریده پوره، داخلي صنعت به پیاوړی، هېوادوالو ته به د کار زمینه برابره او تر ټولو مهمه دا چې له بهر څخه د سیمنټو پر وارداتو به مو تکیه راکمه شي. له یوه لوري به د سیمنټو په مقابل کې بهر ته د اسعارو د وتلو مخه ونیول شي او له بل لوري به د دې صنعت په پراختیا او پرمختګ سره اقتصاد پیاوړی او هېواد به مو له وارداتي حالته د صادراتي او تولیدي اقتصاد په لور ګامونه پورته کړي.

د اقتصادي کمېسیون، تدارکاتو کمېسیون او
د پانګونې بین الوزارتي او تخنیکي کمېټو

# غونډې



# د ماليې وزارت د نويو عوايدي فرصتونو راپور تائيد شو

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسيون نوبتي غونډه د ۱۴۰۴ لمريزکال د کب مياشتې په پنځمه نېټه په مرمرينه مانۍ کې ترسره شوه. دې غونډې ته د ماليې وزارت د نويو عوايدي فرصتونو راپور وړاندې او تاييد شو. د راپور له مخې، ماليې وزارت په مختلفو سکتورونو کې د عوايدو د زياتوالي نوي فرصتونه په ګوته کړي، چې د هر فرصت لپاره د طرحو تر تاييدۍ او منظورۍ وروسته به په اوږدمهال کې د اسلامي امارت بودیجې شاوخوا ۶۰ ميلیارده افغانۍ زيات عوايد ولري. د اقتصادي کمېسيون په دې نوبتي غونډه کې د معيار او کيفيت ادارې اړوند د داخلي معيارونو لپاره وړاندې شوې ۱۲ مسودې او د ازمايښت ۱۱ طريقې هم تاييد شوې. دغه مسودې د ساختماني توکو، برېښنايي او طبي وسايلو او سامان آلاتو، نساجي، پلاستيک، لبنياتو او همدارنګه د ازمايښت طريقې بيا د خوراکي او کرنيزو محصولاتو اړوند دي. دې غونډې ته د اوبو او انرژۍ وزارت له لوري له پنجشير څخه کابل ته د اوبو د انتقال د پايپ لين پروژې په اړه هم راپور وړاندې او د اقتصادي کمېسيون له لوري تاييد شو. د راپور له مخې به ماليې وزارت د يادې پروژې د سروې او ډيزاين لپاره د اوبو او انرژۍ وزارت ته بوديجه ځانګړې کړي. همداراز ماليې وزارت ته هدايت وشو، څو له شاه و عروس بند څخه د کابل ښار شمالي برخو ته د اوبو رسونې په موخه د اوبو رسونې اماراتي شرکت ته ځانګړې شوې بوديجه انتقال او ياد رياست يې د سروې او ډيزاين عملي چارې پيل کړي. همدارنګه دې د اوبو رسونې اماراتي شرکت د (ام ډي پي) اوبو رسونې پروژې د پاتې چارو د بشپړولو په موخه خپل تطبيقي پلان ماليې وزارت ته وسپاري او ماليې وزارت دې د تطبيقي پلان مطابق بوديجه ورته ځانګړې کړي. د اماراتي شرکتونو لوی رياست ته هم هدايت وشو، څو په کابل ښار کې د اوبو رسونې پروژې د سروې او ډيزاين لپاره د اوبو رسونې اماراتي شرکت ته بوديجه ځانګړې کړي.



## کمیسیون تدارکات

## به ارزش حدود ۱۰،۲ میلیارد افغانی ۲۲ پروژه را منظور نمود

به ریاست محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء جلسه نوبتی کمیسیون تدارکات به تاریخ دوم ماه حوت سال ۱۴۰۴ خورشیدی در قصر مرمرین برگزار گردید. در این جلسه مطابق اجندآ ۳۷ پروژه غرض منظوری ارائه گردید. پس از بحث، ۲۲ پروژه به ارزش حدود ۱۰،۲ میلیارد افغانی منظور و در ۷ پروژه دیگر تعدیلاتی وارد گردید. همچنان در مورد چهار پروژه،کمیته‌های تعیین‌شده مؤظف گردید تا پیرامون قیمت‌ها با شرکت‌های برنده مذاکره نموده و گزارش خود را به رهبری کمیسیون تدارکات ارائه نمایند. قرارداد دو پروژه به این دلیل لغو شد که شرکت‌های برنده حاضر به تکمیل پروژه‌ها مطابق قیمت های تعیین‌شده نبودند؛ بنابراین تصمیم گرفته شد این پروژه‌ها دوباره به داوطلبی آزاد سپرده شود. یک پروژه دیگر نیز به سبب بلند بودن قیمت‌های پیشنهادی شرکت‌ها نسبت به قیمت تخمینی، دوباره به داوطلبی آزاد ارائه گردید. در مورد یک پروژه دیگر، به اداره مربوطه هدایت داده شد تا آن را از طریق هیأت مختلط تعیین‌شده تطبیق نماید. همچنان یک شرکت به دلیل تخلفات کاری و شکایات ادارات، به کمیته محرومیت معرفی شد. در پروژه‌های منظور شده و تعدیل‌شده فاز دوم کانال قوش‌تیپه، ساخت ترمینل و پارکینگ میدان هوایی بین المللی احمدشاه بابا در ولایت قندهار، ساخت ترمینل مسافربری و بار بری در مرکز ولایت فراه، ساخت ۲۰ کیلومتر سرک از ایبک تا روی دوآب در ولایت سمنگان، ساخت شفاخانه‌های عمومی در ولسوالی‌های یاوان بدخشان، دندپتان پکتیا و گلران هرات و تکمیل کارهای باقی‌مانده پروژه‌های توزیع و انتقال برق در ولایات مختلف شامل اند. پروژه‌های منظور شده از سوی امارت اسلامی افغانستان تمویل می‌گردد.



## د امارتي ادارو د مکاتیبو او اداري اسنادو د مدیریت برېښنایي سیستم تایید شو

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۵ لمریز کال د ثور میاشتې په نهمه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوه. دې غونډې ته د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت له لوري د امارتي ادارو د مکاتیبو او اداري اسنادو د مدیریت برېښنایي سیستم د بحث لپاره وړاندې شو. له هراړخیزې ارزونې وروسته یاد سیستم تایید او دغه وزارت ته یې په تدریجي ډول د تطبیق لارښوونه وشوه.

د دې سیستم په تطبیق سره به د امارتي ادارو ترمنځ همغږي پیاوړې، شفافیت، څټکتیا او امنیت به رامنځته، د جعل، فساد او د وخت د ضیاع مخنیوی به ترسره، د دقیقو ارقامو او حساب ورکونې اصل به پیاوړی او د برېښنایي حکومتولۍ په لور به اساسي ګام واخیستل شي. په دغه سیستم کې د مراجعینو لپاره هم د پام وړ اسانتیاوې په پام کې نیول شوې دي. همدارنګه دې غونډې ته د ۲۲ هغو عام المنفعه پروژو راپور هم وړاندې شو، چې د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله تعالی له لوري یې د کانونو د عوایدو په بدل کې د تطبیق حکمونه ورکړل شوي. د ۲۲ پروژو له جملې مالیې وزارت د ۱۳ پروژو اقتصادي تحلیل ترسره کړی، چې د اقتصادي کمېسیون له لوري تایید او لارښوونه ورته وشوه، چې دغه تحلیل د کانونو او پټرولیم وزارت سره شریک او اړوندې ادارې د یادو پروژو عملي چارې پیل کړي. په دې کې ساختماني، اوسپنې پټلۍ او د برېښنا رسونې او توزیع پروژې شاملې دي.

د یادونې وړ ده چې د ۲۲ عام المنفعه پروژو له جملې د نهو پروژو عملي چارې پیل شوې، چې کاري پرمختګونه هم لري.

د غونډې په پای کې د یوشمېر تعقیبي موضوعاتو راپورونه هم وړاندې شول، چې د اقتصادي کمېسیون له لوري تایید او اړوندو ادارو ته یې د تطبیق په اړه سپارښتنې وشوې.

## په ګمرکونو کې د وارداتي تجارتي شرکتونو د ثابتې مالیې د ورکړې طرحه د تایید وړ وبلل شوه



د اقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې نوبتي غونډه د ۱۴۰۴ لمریز کال د کب میاشتې په یوولسمه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. دې غونډې ته د مالیې وزارت له لوري د هېواد په ګمرکونو کې د تجارتي وارداتي شرکتونو د ثابتې مالیې د ورکړې طرحه د بحث لپاره وړاندې او له ارزونې وروسته د تایید وړ وبلل شوه. د دې طرحې د تطبیق په صورت کې به وارداتي تجارتي شرکتونو ته ډېرې اسانتیاوې رامنځته او بیت المال ته به په زیاته اندازه عواید جمع شي. دې غونډې ته په هېواد کې د بهرنیو تمویلوونکو د نیمګړو پروژو په تړاو د ټاکل شوې کمېټې راپور هم وړاندې شو. د راپور له اورېدو وروسته پرېکړه وشوه، چې د یادو پروژو د هراړخیزې ارزونې او اولویت بندۍ لپاره دې ټاکل شوې کمېټه کار وکړي او خپل راپور دې په ټاکلي وخت د اقتصادي کمېسیون تخنیکي کمېټې ته وړاندې کړي. د کرنې، اوبو لګولو او مالداری وزارت له لوري د ځمکو او اراضی د تثبیت او د سیستم عصري کولو په تړاو پر وړاندې شوې طرحه هم بحث وشو. له بحث وروسته کرنې وزارت ته سپارښتنه وشوه، چې یاده طرحه د لا غني کېدو په موخه له اړوندو ادارو سره د نظر اخیستو په موخه شریکه او نهایي شوه طرحه د تخنیکي کمېټې راتلونکي مجلس ته وړاندې کړي. همدارنګه د تخنیکي کمېټې له لوري له هېواد څخه بهر ته د المونیم د صادرولو پر موضوع هم بحث وشو. د یادې موضوع د هراړخیزې ارزونې لپاره کمېټه وټاکل شوه او سپارښتنه ورته وشوه، چې خپل راپور په ټاکلې نېټه تخنیکي کمېټې ته وړاندې کړي.

## ظرفیت کاری سیستم‌های اداره عمومی احصائیه و معلومات افزایش خواهد یافت

جلسه نوبتی کمیته تخنیکی کمیسیون اقتصادی به تاریخ ۲۴ حمل ۱۴۰۵ خورشیدی در قصر مرمرین برگزار شد. در این جلسه، پروپوزل ارتقای ظرفیت کاری و عصری‌سازی سیستم‌های موجود ادارۀ عمومی احصائیه و معلومات جهت بحث ارائه گردید. پس از ارزیابی همه‌جانبه، پروپوزل یاد شده قابل تأیید دانسته شد و جهت تصمیم نهایی به کمیسیون اقتصادی راجع گردید. برای تطبیق این پروپوزل، مدت یک سال زمان و حدود یک میلیارد افغانی بودجه در نظر گرفته شده است که با اجرای آن، روند ارائۀ خدمات به هموطنان تسریع یافته و شفافیت نیز تأمین خواهد شد. همچنان در این جلسه، در مورد ضرورت و اهمیت تهیه ماسترپلان برای تمامی بنادر کشور نیز بحث صورت گرفت. مسؤلین وزارت شهرسازی و مسکن اظهار داشتند که کار روی تهیه ماسترپلان‌های بنادر اسلام‌قلعه، نیمروز، تورغندی و ابونصر فراهی جریان دارد و در زمان تعیین‌شده تکمیل خواهد شد. کمیتۀ تخنیکی توصیه نمود تا برای سایر بنادر کشور ماسترپلان‌های مشابه تهیه گردیده و جهت تصمیم نهایی به کمیسیون اقتصادی ارائه شود.

## د سرپل ولایت په مرکز کې

# د سوداگریز مارکېټ جوړولو طرحه د تایید وړ وبلل شوه

د پانگونې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه د ۱۴۰۴ لمریزکال د کب میاشتې په شپږمه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. دې غونډې ته د سرپل ولایت د مرکز اړوند په لومړۍ ناحیه کې د ښاروالۍ پر ځمکه د شرعي عقد (استصناع) پر بنسټ د سوداگریز مارکېټ د جوړېدو طرحې په تړاو د ټاکل شوې کمېټې راپور وړاندې شو. د راپور له مخې یاده طرحه د تایید وړ وبلل شوه. د دې طرحې له مخې به دغه سوداگریز مارکېټ په څلورو پوړونو کې جوړ شي چې ۶۹ دوکانونه او همدارازد وسایطو لپاره به جلا پارکینگ او شنه ساحه ولري. همدارنگه د خصوصي سکتور له لوري په کابل ښار کې د کابل ښاروالۍ پر ملکیتونو په ۱۸ ساحو کې د عامه تشنابونو او په ۱۳ ساحو کې د سوداگریزو مارکېټونو او عامه تشنابونو د جوړولو په اړه پر وړاندې شوې طرحه هم بحث وشو. له بحث وروسته ټاکل شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو د ۱۳ مشخصو شوو ځایونو له جملې د یوشمېر ځایونو په اړه د طرحې له وړاندې کوونکي شرکت سره تخنیکي او مالي بحثونه ترسره او پاتې نور ځایونه دې کابل ښاروالي د ازادې داوطلبۍ له لارې اعلان ته وسپاري. یاده کمېټه دې خپل راپور په ټاکلي وخت د پانگونې بین‌الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي.





## د لمریزې برېښنا د تولید او سوداګریز مارکېټ جوړولو پر طرحو بحث وشو

د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه د ۱۴۰۴ لمریزکال د کب میاشتې په ۱۲مه نېټه په مرمرینه مانۍ کې ترسره شوه. غونډې ته د کابل ښار په لومړۍ ناحیه کې د کابل ښاروالۍ اړوند ملکیت باندې تر ځمکه لاندې د سوداګریز مارکېټ جوړولو طرحه د بحث لپاره وړاندې شوه. له مفصل بحث وروسته ټاکل شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، چې د کور او ښارجوړونې وزارت د نظر اخیستلو په صورت کې د یادې طرحې هراړخیزه ارزونه ترسره او راپور یې په ټاکلي وخت د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي. په دې غونډه کې همدارازپه فراه، دایکندي، غور، زابل او اروزګان ولایتونو کې د لمریزې برېښنا د تولید او په بټریو کې د برېښنا ذخیره کولو د سیستم پر طرحه هم بحث وشو. له بحث وروسته د افغانستان برېښنا شرکت ته دنده وسپارل شوه، څو د یادې طرحې وړاندې کوونکي شرکت ته له مشخصو شوو ولایتونو یوڅو ولایتونه په نښه او په دې اړه ورسره تخنیکي او هراړخیز بحثونه ترسره او خپل جامع راپور د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې ته په ټاکلي وخت وړاندې کړي.

## طرح بازسازی زمین‌های تخریب‌شده در کنار دریای آمو قابل تأیید دانسته شد

جلسه نوبتی کمیته سرمایه‌گذاری بین الوزارتی به تاریخ، ۱۹ حوت ۱۴۰۴ خورشیدی در قصر مرمرین برگزار شد. در این جلسه، طرح بازسازی زمین‌های تخریب‌شده در کنار دریای آمو برای بحث ارائه گردید که پس از ارزیابی همه‌جانبه، در پرنسیپ قابل تأیید دانسته شد. بر اساس این طرح، اول زمین های تخریب‌شده دوباره احیا می‌گردد و سپس در آن فارم‌های زراعتی و مالداری و همچنان کارخانه‌های پروسس ایجاد خواهد شد که در نتیجه آن مقدار زیادی محصولات باکیفیت تولید شده و برای هزاران هموطن فرصت‌های کاری فراهم می گردد. همچنان در این جلسه، روی طرح ایجاد یک کمپلکس تجارتی و رهایشی در ناحیه شانزدهم شهرکابل نیز بحث صورت گرفت. پس از بحث، به شاروالی کابل وظیفه سپرده شد تا ملکیت زمین و پلان ملکیت را مشخص سازد. اگر این زمین برای سرمایه گذاری مساعد تشخیص داده شود، با شرکت ارائه‌کننده طرح بحث‌های تخنیکی انجام داده و گزارش آن را به کمیته سرمایه گذاری بین‌الوزارتی ارائه نماید. همچنان کمیته سرمایه‌گذاری بین‌الوزارتی درباره تعیین مکان‌های منظم برای موترفروشی‌ها در شهرکابل نیز بحث کرد. به کمیته‌ای متشکل از نمایندگان شاروالی کابل و ادارات مربوطه وظیفه سپرده شد تا در چندین ساحه شهرکابل مکان‌های مناسب برای موترفروشی‌ها را مشخص ساخته، برای آن طرح ترتیب داده و با کمیته سرمایه‌گذاری بین‌الوزارتی شریک سازند.



## د پانګونې پر یوشمېر طرحو بحث وشو

د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۵ لمریز کال د حمل میاشتې په ۱۸مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوه. غونډې ته د کابل ښار په لومړۍ ناحیه کې د سوداګریز مارکېټ جوړولو، په کابل ښار کې د کثافاتو د سوځولو او پروسس له لارې د برېښنا تولید د عصري فابریکې جوړولو او همداراز په کندهار، هرات او بلخ ولایتونو کې د تراکتورونو او کرنیزو ماشینونو د مونتاژ او تدریجي تولید طرحې د بحث لپاره وړاندې شوې.

له بحث وروسته یادې طرحې د تخنیکي او اقتصادي ارزونو په موخه اړوندو ادارو ته راجع او سپارښتنه ورته وشوه، چې خپل راپورونه په ټاکلو نېټو د پانګونې بین الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي.



## در مورد طرح‌های ایجاد مارکیت‌های تجارتی و پارک تکنالوژی معلوماتی بحث صورت گرفت

جلسه نوبتی کمیته سرمایه‌گذاری بین الوزارتی به تاریخ ۲۵ ماه حمل ۱۴۰۵ خورشیدی در قصر مرمرین برگزار شد. در این جلسه طرح ایجاد مارکیت تجارتی زیرزمینی در ناحیه یازدهم شهر کابل، ایجاد مارکیت تجارتی در ناحیه اول و همچنان طرح ایجاد پارک تکنالوژی معلوماتی برای بحث ارائه گردید. پس از بحث، طرح‌های یادشده به ادارات مربوطه راجع گردید و به آنان توصیه شد تا با در نظرداشت نظریات کمیته سرمایه‌گذاری بین‌الوزارتی ، تحلیل های مالی و تخنیکی را انجام داده و گزارش های خویش را در زمان‌های تعیین‌شده به کمیته ارائه نمایند.



## په کابل ښار کې د استوګنیز ښارګوټي او سوداګریزو مارکېټونو د جوړولو پر طرحو بحث وشو

د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۵ لمریز کال د ثور میاشتې په لومړۍ نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. دې غونډې ته د کابل ښار په لومړۍ ناحیه کې له سپاهي ګمنام څلورلارې تر جاده میوند او له جاده میوند تر پل یک پیسه‌ګي پورې تر ځمکې لاندې د سوداګریز مارکېټ، د کابل ښار په لومړۍ ناحیه کې د سوداګریز مارکېټ او همدارنګه د کابل ښار په اتمه ناحیه کې د طلايي ښارګوټي شا ته د کابل ښاروالۍ پر ځمکه د استوګنیز ښارګوټي د جوړولو طرحې د بحث لپاره وړاندې شوې.

له بحث وروسته یادې طرحې اړوندو ادارو ته د تخنیکي او مالي ارزونو لپاره راجع شوې او سپارښتنه ورته وشوه، چې خپل راپورونه په ټاکلو نېټو د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي.



## روی طرح‌های ساخت مارکیت‌های تجارتی در ولایت کابل، بلخ و جوزجان بحث صورت گرفت

جلسه نوبتی کمیته سرمایه‌گذاری بین‌الوزارتی به تاریخ هشتم ثور ۱۴۰۵ خورشیدی در قصر مرمرین برگزار گردید. در این جلسه، طرح‌های ساخت مارکیت‌های تجارتی در زمین وزارت مالیه در ناحیه اول شهر کابل، در زمین وزارت اطلاعات و فرهنگ در ناحیه چهارم شهر مزارشریف مرکز ولایت بلخ و همچنان در زمین شاروالی در شهر شبرغان مرکز ولایت جوزجان جهت بحث ارائه شد.

پس از بحث، طرح‌های یادشده برای ارزیابی مالی، اقتصادی و تخنیکی به ادارات مربوطه راجع گردید و به آن توصیه شد تا گزارش‌های خود را در زمان تعیین‌شده به کمیته سرمایه‌گذاری بین الوزارتی ارائه نمایند.



## د تدارکاتو کمېسیون د څه باندې یو میلیارد افغانیو په لګښت ۱۷ پروژې منظورې کړې

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د تدارکاتو کمېسیون نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۵ لمریز کال د حمل میاشتې په ۱۲مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. دې غونډې ته له اجنډا سره سم ۴۲ پروژې د منظورۍ لپاره وړاندې شوې. له بحث وروسته د څه باندې یو میلیارد افغانیو په ارزښت ۱۷ پروژې منظورې شوې او په ۱۴ پروژو کې بیا یولړ تعدیلونه راغلل. همداراز د شپږو پروژو په اړه ټاکل شوو کمېټو ته دندې وسپارل شوې، څو د پروژو د قیمتونو په اړه له ګټونکو شرکتونو سره مذاکره ترسره او راپور یې د تدارکاتو کمېسیون مشرتابه ته وړاندې کړي. د دوه پروژو قراردادونه بیا له دې امله لغوه شول، چې ګټونکي شرکتونه د قرارداد مطابق په ټاکل شوو قیمتونو د پروژو بشپړولو ته حاضر نه وو او پرېکړه وشوه چې دغه پروژې دې بیاځلې ازادې داوطلبۍ ته وړاندې او ګټونکي شرکتونه دې د محرومیت کمېټې ته معرفي شي. دوه پروژې بیا له دې امله بیاځلې ازادې داوطلبۍ ته وړاندې شوې، چې په ازاده داوطلبۍ کې د شرکتونو له لوري وړاندې شوي قیمتونه د پروژو له تخمیني قیمتونو څخه ډېر زیات وو. همدارنګه د یوې پروژې په اړه بیا اړوندې ادارې ته هدایت وشو، چې په شرایطو د برابرو شرکتونو ارزونه دې بیاځلې ترسره او راپور دې د تدارکاتو کمېسیون مشرتابه ته وړاندې کړي. په منظور شوو او تعدیل شوو پروژو کې د پنجشیر ولایت د پوهنتون لپاره د لیلیې ودانۍ جوړول، د بدخشان ولایت د پوهنتون لپاره د طب پوهنځي د ودانۍ جوړول، له کونړ څخه تر نورستان پورې د غځېدلي سړک اول او دویم فازونو د چارو بشپړول، د غزني ولایت په ګیرو ولسوالۍ، د فاریاب ولایت په بندر ولسوالۍ او د ننګرهار ولایت په سپین غر ولسوالۍ کې د عمومي روغتونونو جوړولو او همدارنګه په مختلفو ولایتونو کې د برېښنا رسونې او توزیع پروژې شاملې دي. منظور شوې پروژې د افغانستان اسلامي امارت له لوري تمویلېږي

## کمیسیون تدارکات ۱۹ پروژه را به ارزش حدود ۲.۸ میلیارد افغانی منظور کرد

جلسه نوبتی کمیسیون تدارکات به ریاست محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء، بتاریخ دهم ماه ثور ۱۴۰۵ خورشیدی در قصر مرمرین دایر گردید. بر اساس اجندا، در این جلسه ۲۶ پروژه جهت منظوری ارایه گردید. پس از بحث، ۱۹ پروژه به ارزش ۲.۸ میلیارد افغانی منظور و در چهار پروژه دیگر برخی تعدیلات وارد گردید. همچنان، به کمیته مؤظف وظیفه سپرده شد تا پروسه و قیمت تدارکات یک پروژه را بررسی و ارزیابی نماید. برعلاوه، به کمیته مؤظف وظیفه سپرده شد تا قیمت های پیشنهاد شده برای یک پروژه را با شرکت ها برنده مذاکره کند و یک پروژه دوباره به داوطلبی گذاشته شد. بخاطریکه شرکت برنده از تطبیق پروژه به قیمت توافق شده انصراف کرده بود، این شرکت بخاطر این تخلف به کمیته محرومیت معرفی شد. پروژه های منظور شده و تعدیل شده شامل تجهیزات مخابراتی، سرک سازی، تامین و توزیع برق و شماری از پروژه های دیگر می باشند که از سوی امارت اسلامی افغانستان تمویل می شود.

### کابل ښار کې د خصوصي طبي پوهنتون او تدریسي روغتون لپاره

## د لس پوړیزې ودانۍ د جوړولو پر طرحه بحث وشو

د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې غونډه د روان ۱۴۰۵ لمریزکال د ثور میاشتې په ۱۵مه نېټه په مرمرینه مانۍ کې جوړه شوه. دې غونډې ته د کابل ښار په نهمه ناحیه کې د بایزید روښان خصوصي طبي پوهنتون او تدریسي روغتون لپاره د لس پوړیزه ودانۍ د جوړولو طرحه د بحث لپاره وړاندې شوه. په غونډې کې د دې طرحې پر اهمیت او ارتیا ټینګار وشو او اړوندو ادارو ته دنده وسپارل شوه، څو یاده طرحه په هر اړخیز ډول و ارزوي او خپل راپور په ټاکلې نېټه د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي. همدارنګه په دې غونډه کې د ننګرهار ولایت د مرکز جلال اباد ښار په لومړۍ ناحیه کې د ښاروالۍ پر ځمکه د سوداګریز مارکېټ او د جوزجان ولایت په مرکز شبرغان ښار کې د کفیټریا او دوکانونو جوړولو پر طرحو هم بحث وشو. له بحث وروسته یادې طرحې اړوندو ادارو ته راجع او دنده ورته وسپارل شوه، چې د پانګونې بین الوزارتي کمېټې د نظرونو په پام کې نیولو سره یې تخنیکي، مالي او اقتصادي تحلیلونه ترسره او راپورونه یې په ټاکلو نېټو دې کمېټې ته وړاندې کړي.

### کمیته سرمایه‌گذاری بین‌الوزارتی در مورد طرح‌های مارکیت‌های تجارتی

## و کمپلکس تفریحی، ورزشی و تجارتی در کابل بحث نمود

جلسه نوبتی کمیته سرمایه‌گذاری بین الوزارتی به تاریخ ۲۹ ثور ۱۴۰۵ خورشیدی در قصر مرمرین برگزار شد. در این جلسه، گزارش‌های ارائه‌شده از سوی اداره امور در مورد تغییر مدل مالی طرح‌های ساخت مارکیت‌های تجارتی بر زمین‌های شاروالی در تالقان مرکز ولایت تخار و مرکز ولایت سرپل، از مشارکت عامه و خصوصی به عقد شرعی بدیل، تأیید شد. همچنان در این جلسه، طرح ساخت یک کمپلکس تفریحی، ورزشی و تجارتی در زمین وزارت دفاع در ناحیه پنجم شهر کابل نیز برای بحث ارائه گردید. پس از بحث در جلسه، این طرح به وزارت دفاع راجع شد تا پس از ارزیابی ابعاد مالی، تخنیکی و اقتصادی، گزارش خود را با کمیته سرمایه گذاری بین‌الوزارتی شریک سازد.



# اقتصادي کمېسیون
# د معیار او کیفیت ۶۹ مسودې تایید کړې

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادراخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۵ لمریز کال د ثور میاشتې په ۲۴ مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوه. د اقتصادي کمېسیون غونډې ته له اجنډا سره سم د معیار او کیفیت اداري له خوا د معیارونو ۶۹ مسودې د تاییدۍ له پاره وړاندې شوې. په غونډه کې تر هراړخیز بحث وروسته یادې مسودې تایید او اړوندو ادارو ته یې د ښه تطبیق سپارښتنه وشوه. د ۶۹ مسودو له جملې ۲۹ ازمايښتي لارې او پاتې نورې یې معیارونه دي چې د مدیریت، نفتي توکو، طبي وسایلو، مخابراتو، کیمیاوي توکو، زراعت او خوراکي موادو، کانونو، چاپېریال ساتنې او ساختماني موادو په برخه کې جوړ شوي دي. د اقتصادي کمېسیون دې غونډې ته د جوزجان شېرو ولسوالیو ته د برېښنا رسونې پروژې په اړه د تخنیکي، مالي او اقتصادي څېړنو او کړنو په تړاو راپور وړاندې شو. د غونډې ګډنوالو له بحث وروسته پرېکړه وکړه چې په دې اړه دې یو پلاوی یادو ولسوالیو ته سفروکړي او د خپلو موندنو راپور دې د اقتصادي کمېسیون بلې غونډې ته وړاندې کړي. په غونډه کې د کانونو او پټرولیم وزارت له خوا ۷۷ ساختماني شرکت ته د سمنګان د دره صوف بالا ولسوالۍ د زورا سیمې د ډبرو سکرو د ظواهرو د قرارداد ورکولو وړاندیز باندې هم بحث وشو. اقتصادي کمېسیون پرېکړه کړې وه چې د دې قرارداد ټول اړخونه دې د اصولو په رڼا کې وڅېړل شي او خپل نهايي راپور دې د ریاست الوزراء مقام ته وړاندې کړي. د اقتصادي کمېسیون دې غونډې ته د امارتي ادارو د تېلو د قراردادونو په تړاو د ټاکل شوې کمېټې او همداراز د کندوز ولایت د علي آباد ولسوالۍ د پنځوس بستریز روغتون په تړاو د عامې روغتیا وزارت راپورونه وړاندې شول. په غونډه کې تر بحث وروسته پرېکړه وشوه چې یوه کمېټه دې د تیلو د قراردادونو موضوع په هر اړخیز ډول وڅېړي او خپل راپور دې د کمېسیون راتلونکې غونډې ته وړاندې کړي. همداراز عامې روغتیا وزارت ته هدایت وشو چې په نوموړې ولسوالۍ کې یو ۳۰ بستریز روغتون جوړ کړي.



# ليدني كتني



## د ګلبهار استوګنیز او سوداګریز ښارګوټي طرحه په پرنسیپ کې تایید شوه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د روان ۱۴۰۵ لمریز کال د ثور میاشتې په پنځمه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې غونډه جوړه شوه. په غونډه کې د اړوندو ادارو له لوري د ګلبهار استوګنیز او سوداګریز ښارګوټي د جوړولو پر طرحې بحث وشو. یاده طرحه د ښاري پراختیا او اقتصادي ارزښت په پام کې نیولو سره په پرنسیپ کې تایید شوه او د تخنیکي مطالعاتو د ترسره کولو لپاره یې د اقتصادي معاونیت په مشرۍ کمېټه وټاکل شوه. کمېټې ته دنده وسپارل شوه، چې ټول تخنیکي، اقتصادي، اجتماعي او د چاپېریال ساتنې اړوند مسایلو په اړه یې تفصیلي کړنې ترسره او راپور یې په درېیو میاشتو کې د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت له محترم مقام سره شریک کړي. د ګلبهار استوګنیز او سوداګریز ښارګوټي د جوړولو لپاره خصوصي سکټور د شاوخوا اته میلیارده ډالرو پانګونې لېوالتیا ښودلې، چې په ۱۱ زره جریبه کې به په کابل ښارکې جوړ او لسګونو زرو هېوادوالو ته به د سرپناه برابرولو ترڅنګ زرګونه کاري فرصتونه هم رامنځته کړي.



## د هېواد په مرکز او نهو بندرونو کې
## د معیاري لابراتواري کمپلکسونو د جوړولو تړون لاسلیک شو

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادراخوند په حضور کې د روان ۱۴۰۵ لمریزکال د ثور په ۲۳ مه د معیار او کیفیت ادارې او یوه نړیوال شرکت ترمنځ څه د پاسه ۴۶ میلیون ډالرو په ارزښت د لابراتواري کمپلکسونو د جوړولو او سمبالتیا تړون لاسلیک شو. د دغه تړون له مخې چې د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو په مرکزکې د معیار او کیفیت ادارې د رییس محترم مولوي فیض الله تمیم او د یوه هندي نړیوال شرکت ( تي سي آر سي) د استازي ترمنځ لاسلیک شو. نوموړی شرکت به د پنځو کلونو له پاره د هېواد په مرکز او نهو بندرونو کې معیاري لابراتواري کمپلکسونه جوړ، پرمختللي تجهیزات به چمتو او نصب، موجوده تجهیزات به ترمیم او همدارنګه د معیار او کیفیت ادارې د کارکوونکو د مسلکي ظرفیت لوړولو په موخه به بهرني متخصصین معرفي کړي. د دې تړون له مخې به د معیار او کیفیت ادارې مسلکي کارکوونکو ته کورني او بهرني روزنیز پروګرامونه هم جوړ او د معیارونو نړیوال سازمان (ISO) څخه به د نړیوالو باوري کیفیت تایید لیکونو د ترلاسه کولو بهیر هم عملي شي.



## محترم ملا عبدالغنی برادر آخند به بندر حیرتان سفر کرد

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند، معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء، با هیأت همراهش به تاریخ ۳۰ ثور سال ۱۴۰۵ خورشیدی به بندر حیرتان در ولایت بلخ سفر کرد. در جریان این سفر، در مورد ارائه خدمات ۲۴ ساعته در بندر حیرتان و مشکلات موجود ادارات امارتی در این بندر، از جمله وزارت‌های مالیه، صنعت و تجارت، امور خارجه، ترانسپورت و هوانوردی، فواید عامه، کمیساری حیرتان، اداره غذا و دوا، اداره معیار و کیفیت و شرکت‌های امارتی نفت و گاز، استراس و افسوتر بحث صورت گرفت و در مورد حل آن تصامیم لازم اتخاذ گردید. براساس تصامیم اتخاذشده، مطابق نیاز در این بندر تشکیل ادارات امارتی افزایش خواهد یافت، پارکینگ‌های بزرگ و معیاری، ساختمان‌های اداری، مراکز تخلیه و بارگیری، لابراتوارهای پیشرفته، سرک‌های معیاری و سردخانه‌ها ساخته خواهد شد، خطوط موجود خط آهن توسعه خواهد یافت، وسایط نقلیه برای ترانسپورت و انتقالات فراهم خواهد شد، ترازوهای دیجیتلی برای سنجش وزن‌های بزرگ و اسکنرهای سیار برای جلوگیری از قاچاق نصب خواهد گردید. با این اقدامات، خدمات صادراتی و وارداتی به‌گونه بهتر و بدون تأخیر به‌صورت ۲۴ ساعته در بندر حیرتان ارائه خواهد شد که در نتیجه آن سطح تجارت دوجانبه میان افغانستان و ازبیکستان افزایش یافته و در رشد اقتصاد نقش مثبت خواهد داشت.



## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ازبیکستان د اوسپنې پټلۍ ادارې له عمومي رییس سره وکتل

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۵ لمریز کال د ثور میاشتې په ۳۱مه نېټه په بلخ ولایت کې د ازبیکستان هیواد د اوسپنې پټلۍ ادارې له عمومي رییس سره وکتل. د دې لیدنې پرمهال ازبیک مسوولینو وویل، غواړي په نایب اباد سټېشن کې د یو نیم کیلو متر په اوږدوالي د اوسپنې پټلۍ نوې کرښه او د دې کرښې په اوږدو کې د تخلیې او بارګیرۍ لپاره څو ګدامونه جوړ کړي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال دا هڅه وستایله او د تولګټو وزارت مسوولینو ته یې هدایت وکړ، څو یې تخنیکي او ساختماني چارې په ګډه له ازبیک لوري سره پرمخ یوسي. د دې کرښې او ګدامونو په جوړېدو سره به د حیرتان بندر ظرفیت زیات او سوداګرو ته به اسانتیاوې رامنځته شي.

## د ابو علي سینا بلخي دوهم تخصصي ملي او نړیوال نندارتون پرانیستل شو

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د روان ۱۴۰۵ لمریز کال د ثور میاشتې په ۲۹مه نېټه د ابو علي سینا بلخي دوهم تخصصي ملي او نړیوال نندارتون پرانیستل شو. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په همدې موخه په جوړو شویو مراسمو کې د وینا پرمهال خوښي څرګنده کړه، چې د افغانستان د درملو سکټور د پیاوړتیا په برخه کې لازم اقدامات شوي او اوسمهال د هېوادوالو اړتیاوې تر ډېره له کورني تولید څخه پوره کېږي. هغه زیاته کړه، د بهرنیو فشارونو او اقتصادي بندیزونو په مقابل کې تر ټولو مؤثره لار د کورني تولید پیاوړي کول او د هغه ملاتړ دی. محترم ملا صاحب وویل، په دې وروستیو کې د درملو وارداتو کمول د دې سبب شول چې د افغانستان د درملو سکټور په کم وخت کې ډېره وده وکړي او هېوادوال د بهرنیو درملو پرځای له کورنیو درملو استفاده کوي. هغه زیاته کړه، د هېواد اړتیا ته په کتو، دغه لاسته راوړنې کفایت نه کوي، بلکې اړتیا ده چې د درملو تولیدي فابریکې لا ډېرې معیاري او د منل شوو معیارونو مطابق خپلو تولیداتو ته پراختیا ورکړي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د درملو سکټور د پیاوړتیا په برخه کې د دغه نندراتون جوړول مهم وبلل او د روغتیا سکټور له ټولو مسوولینو او هېوادوالو یې وغوښتل چې په خپلو کورنیو درملو باور او له هغو استفاده وکړي. محترم ملا صاحب همدارازله سوداګرو او درملو پلورونکو هم په جدي ډول وغوښتل چې درمل په لوړه بیه ونه پلوري او له احتکار څخه لاس واخلي. هغه په دې برخه کې له اړوندو امارتي ادارو او مسوولینو په کلکه وغوښتل چې د داسې کړنو جدي مخنیوی وکړي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال له ټولو پانګوالو وغوښتل چې په افغانستان کې پانګونه وکړي. هغه ډاډ ورکړ چې اسلامي امارت یې ترڅنګ ولاړ دی، د پانګونې پروسو پر رالنډولو کار روان دی او په تدریجي ډول به الکترونیکي سیستم رامنځته شي.

محترم ملا صاحب همدارنګه وویل چې اسلامي امارت یوازې پر داخلي اقتصاد تمرکز نه کوي، بلکې د سیمه‌ییز او نړیوال اقتصادي اتصال په برخه کې هم له هېوادونو سره پیاوړې اړیکې غواړي او په خبره یې، اوسمهال د سیمې او ګاونډیو هېوادونو سره اقتصادي تعاملات زیات شوي. د ابو علي سینا بلخي دوهم تخصصي ملي او نړیوال نندارتون کې د درملو لسګونو تولیدي فابریکو خپل تولیدات د ځلورو ورځو لپاره نندارې ته وړاندې کړل. اوسمهال په ټول هېواد کې د درملو ۱۳۴ تولیدي فابریکې فعالیت کوي، چې ۱۱۷۰ قلمه درمل تولیدوي. په دې فابریکو کې ۴۵۰ میلیون ډالر پانګونه شوې، چې د هېواد ۳۸ سلنه اړتیا پوره کوي. دغه کچه اته میاشتې وړاندې ۲۵ سلنه وه، چې د بهرنیو درملو د وارداتو په کمولو سره کورني تولید د پام وړ پرمختګ وکړ.



# اقتصادي پروژې

## او انفوګرافیکونه





## د حیرتان – مزارشریف اوسپنې پټلۍ پنځمه برخه بیاځلې فعاله شوه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۵ لمریز کال د ثور میاشتې په ۳۱مه نېټه په بلخ ولایت کې د حیرتان - مزارشریف اوسپنې پټلۍ د پنځمې برخې د بیاځلې فعالېدو پرانیسته وکړه. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په هېواد کې د اوسپنې پټلۍ شبکو د پراختیا په برخه کې د تولګټو وزارت هڅې وستایلې او همداراز یې د ازبېکستان هېواد له همکاریو هم مننه وکړه. هغه زیاته کړه، د افغانستان او ازبېکستان ترمنځ اقتصادي او سوداګریزې اړیکې د پخوا په پرتله پیاوړې شوې او د پراختیا لپاره یې د بلخ د محترم والي صیب په مشرۍ له اړوندو ادارو څخه ګډه کمېټه ټاکل شوې ده. د حیرتان - مزارشریف اوسپنې پټلۍ پنځمه برخه ۷۰ کیلومتره اوږدوالی، ۳۰ کیلومتره فرعي کرښې، پنځه سټېشنونه او همدارنګه د ۵۰ واګونونو د تخلیې ظرفیت لري. د دې برخې په فعالېدو سره به د سوداګریزو توکو د حجم په زیاتوالي او انتقال کې د پام وړ سهولتونه رامنځته شي.



# کار ساخت فابریکه تولیدی سمنت یتیم‌تاق افتتاح شد

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند، معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء، به تاریخ هفتم ثور ۱۴۰۵ خورشیدی ، در ولایت جوزجان کار ساخت فابریکه تولیدی سمنت یتیم‌تاق را افتتاح نمود. معاون اقتصادی ریاست الوزراء، تقویت صنعت داخلی و حمایت از تولیدات داخلی را برای رشد اقتصادی کشور و برداشتن گام‌های سریع به‌سوی اقتصاد تولیدی، مهم دانسته و بر حل این ضرورت تأکید نمود. محترم ملا صاحب افزود که در ادامه ادای این مسؤلیت اساسی، امروز کار عملی این فابریکه مهم در ولایت جوزجان آغاز گردید که در تقویت صنعت داخلی، کاهش وابستگی به واردات و رشد اقتصادی کشور نقش مهمی ایفا خواهد کرد. معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء گفت که تمام تمرکز امارت اسلامی افغانستان بر تقویت صنعت داخلی است و تلاش می‌کند تا به‌جای صادرات مواد خام، زمینه پروسس داخلی این مواد را فراهم سازد. محترم ملا عبدالغنی برادر آخند یک‌بار دیگر از جامعه جهانی خواست تا در چارچوب اقتصاد رسمی، تعامل خود را با افغانستان تقویت نموده و از امنیت بی‌سابقه، ثبات سیاسی و ظرفیت‌های بالقوه کشور استفاده نمایند. به گفته وی، تنگ‌ساختن فضای سیاسی و اقتصادی جهانی و منطقه‌ای، تطبیق سیاست حذف در سطح بین‌المللی و دوام تحریم‌ها، به هیچ صورت نمی‌تواند مشکلات سیاسی و اقتصادی جهانی را حل نمایند؛ بلکه برعکس، چنین سیاست‌ها تهدیدها را به‌وجود می‌آورد و سهم مشارکت منطقه‌ای و جهانی را کاهش می‌دهد. در پایان، معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء به تمامی هموطنان آغاز کار ساخت این فابریکه را تبریک گفته و از ادارات مربوطه و شرکت قراردادی خواست تا کارها را با کیفیت عالی انجام دهند. برای ساخت فابریکه تولیدی سمنت یتیم‌تاق، شرکت ۷۷ ترکی مبلغ ۱۶۰ میلیون دالر سرمایه‌گذاری می‌کند که روزانه ۳۰۰۰ تُن سمنت تولید نموده و برای ۵۰۰۰ تن از هموطنان به‌گونه مستقیم و غیرمستقیم زمینه کار را فراهم خواهد کرد. کار ساخت این فابریکه در مدت دو سال تکمیل خواهد شد.



# فارياب کې د دوو بنسټيزو پروژو چارې پيل شوې

د فارياب ولايت د مرکز ميمنې ښار اړوند د افغان کوت په کلي کې د يو جومات او روغتيايي مرکز د جوړولو چارې د يو ميليون ډالرو په لګښت د رياست الوزراء د اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او سيمه‌ييزو چارواکو په حضور کې پيل شوې. په هغه مراسمو کې چې د روان ۱۴۰۵ کال د حمل په ۲۷ مه نيټه په ميمنه ښار کې جوړ شوي وو د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د متوازن انکشاف او د خلکو اساسي اړتياوو ته د رسېدنې پر اهميت ټينګار وکړ او ويې ويل چې د دغه ډول پروژو پلې کېدل د روغتيايي او ديني خدمتونو د ښه‌والي لپاره يو اغېزناک ګام دی. محترم ملا صاحب د سوداګرو او پانګوالو د همکارۍ ستاينه وکړه او زياته يې کړه چې په بنسټيزو برخو کې پانګونه نه يوازې د ټولنيزې هوساينې لامل ګرځي، بلکې د اقتصادي ودې او ځان بسياينې لپاره هم زمينه برابروي.



## ننګرهار کې د ۴۰ مېګاواټه لمریزې برېښنا پروژې چارې ۲۵ سلنه بشپړې شوې

ننګرهار ولایت کې د شیخ مصري صنعتي پارک لپاره د ۴۰ مېګاواټه لمریزې برېښنا پروژې چارو ۲۵ سلنه پرمختګ کړی او ټاکل شوې چې پاتې چارې به یې د روان ۲۰۲۶ میلادي کال تر پایه بشپړې شي. په دې پروژه کې د خصوصي سکټور له لوري ۲۸ میلیون ډالر پانګونه کېږي، چې د چارو په بشپړېدو سره به ۲۹ زره کورنیو او همداراز په ننګرهار ولایت کې ډېر شمېر صنعتي فابریکو ته برېښنا برابره کړي. پر یادې پروژې سربېره په لغمان ولایت کې د لس مېګاواټه لمریزې برېښنا، د بلخ ولایت په دهدادي ولسوالۍ کې د ۴۰ مېګاواټه لمریزې برېښنا او په لوګر ولایت کې د ۴۰ مېګاواټه لمریزې برېښنا پروژو په چارو کې هم پرمختګ شوی، چې له پلان سره سم به په ټاکلو نېټو بشپړې شي. په دې پروژو کې په لسګونه میلیون ډالر پانګونه کېږي، چې سلګونو هېوادوالو ته یې کاري فرصتونه برابر کړي. د دې پروژو د چارو په بشپړېدو سره به د لسګونو زرو هېوادوالو کورونو او همداراز صنعتي فابریکو ته برېښنا ورسېږي. اسلامي امارت د صنعت د پیاوړي کېدو لپاره په کور دننه د برېښنا پر تولید تمرکز کړی او په همدې موخه یې د هېواد په مختلفو ولایتونو کې له خصوصي سکټور سره په ګډه د لمریزې، بادي، اوبو او ډبرو سکرو څخه د برېښنا تولید پروژې پیل کړې دي.

## د څه باندې اته میلیارده افغانیو په لګښت د ۱۶ سبسټېشنونو د جوړولو او پراختیا چارې روانې دي

په کابل، کندهار، لوګر، بغلان، کندوز، ننګرهار، هرات، غزني، هلمند او جوزجان ولایتونو کې د اته میلیارده او ۱۵۰ میلیون افغانیو په لګښت د برېښنا د ۱۶ سبسټېشنونو د جوړولو او پراختیا چارې روانې دي. د افغانستان برېښنا شرکت د معلوماتو له مخې، دغه سب سټېشنونه په مجموعي ډول د ۱۸۰۰ مېګاواټه برېښنا د ویش ظرفیت لري، چې تخنیکي او ساختماني چارې یې د افغانانو له لوري پرمخ وړل کېږي. د یادو سبسټېشنونو د چارو په بشپړېدو سره به یو میلیون کورنیو او همدارنګه په بېلابېلو ولایتونو کې شاوخوا ۱۱۰۰ صنعتي فابریکو ته برېښنا ورسېږي. اوسمهال د دغو پروژو په چارو کې د پام وړ پرمختګونه شوي او ټاکل شوې چې پاتې هغه به یې د پلانونو مطابق په ښه کیفیت او ټاکلو نېټو بشپړې شي. د دغو پروژو مالي تمویل د افغانستان اسلامي امارت له لوري کېږي. د یادونې وړ ده چې د یادو سبسټېشنونو د چارو په بشپړېدو سره به تر ډېره د برېښنا د ضایعاتو مخنیوی وشي او هم به نوي پېرودونکي د برېښنا له عمومي شبکې سره وصل شي. د افغانستان اسلامي امارت هڅه کوي چې د هېواد ټولو لرې پرتو سیمو ته برېښنا ورسوي څو د هېوادوالو ستونزې حل او اسانتیاوې ورته رامنځته شي.



# کمیته سرمایه‌گذاری بین‌الوزارتی

# حدود ۳۵ میلیارد افغانی

# سرمایه‌گذاری را جذب نموده

کمیته سرمایه‌گذاری بین‌الوزارتی زیر چتر معاونیت اقتصادی ریاست‌الوزراء در کشور به منظور جلب و جذب سرمایه‌گذاری، فراهم‌ساختن تسهیلات لازم برای سرمایه‌گذاران، شریک‌ساختن فرصت‌های سرمایه‌گذاری با آنان، ایجاد هماهنگی مؤثر میان سرمایه‌گذاران و ادارات مربوطه و بهبود رشد اقتصادی کشور فعالیت می‌نماید. این کمیته از آغاز فعالیت خود تا اکنون، ۴۸ طرح سرمایه‌گذاری سرمایه‌گذاران داخلی و خارجی را در سکتورهای برق، زیربنا، ساختمان، زراعت، ترانسپورت و تکنالوژی معلوماتی به‌گونه همه جانبه بررسی نموده است که پس از تأیید کمیسیون اقتصادی، از سوی مقام عالی رهبری منظور گردیده‌اند. این طرح‌ها در ولایات مختلف تطبیق می‌گردد که ارزش مجموعی آن به حدود ۳۵ میلیارد افغانی می‌رسد. با تطبیق این طرح‌ها، به‌گونه مستقیم و غیرمستقیم برای هزاران تن زمینه کاری فراهم شده و همچنان بازار مواد ساختمانی داخلی رونق یافته است. سرمایه گذاران داخلی و خارجی می‌توانند از فرصت‌های موجود سرمایه‌گذاری در افغانستان استفاده نموده و طرح‌های خود را به کمیته سرمایه‌گذاری بین‌الوزارتی که زیر چتر معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء فعالیت دارد، ارائه نمایند.



## د قیصار - لامان د حلقوي سړک
## د درېیمې برخې د جوړولو چارې پیل شوې

